د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو
د تألیف لوی ریاست

# حسن خط

## دریم ټولگی

ادب د انسان گانه ده.

زمور قوت په یووالي کې دی.

د علم زده کړه فرض ده.

دوطن آبادي زموږ هیله ده.

ادب، آبادی، جوار، سابه، قلم، باران، دوا، صابون، کتاب، میوه، ربنتیا، طاووس، لیمو، نارنج، یووالی

د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ.ش.

افغانستان

خانهٔ زموږ

مشترك د ټولو

همهٔ ما گهٔ کور

است. دی.

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري،
اخیستنه او خرڅونه یې په کلکه منع ده.
له سر غړونکو سره قانوني چلن کیږي.

moe.curriculum@gmail.com



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
کور د سولې کور د تورې
دا وطن د ټولو کور دی
د پښتون او هزاره وو
ورسره عرب، گوجر دي
براهوي دي، قزلباش دي
دا هیواد به تل ځلیږي
په سینه کې د آسیا به
نوم د حق مو دی رهبر

دا عزت د هر افغان دی
هر بچی یې قهرمان دی
د بلوڅو د ازبکو
د ترکمنو د تاجکو
پامیریان، نورستانیان
هم ایماق، هم پشه یان
لکه لمر پر شنه آسمان
لکه زړه وي جاویدان
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو د روزنې معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف

لوی ریاست

# حسن خط

## دریم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ . ش

**ليکوالان**:

- د سرمؤلف مرستيال محمد غالب الله يار د هنرونو د ديپارتمنت مسؤول
- عزيز الله حسن زاده د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړی
- سيد انور ميچنخيل د هنرونو د ديپارتمنت علمي عړی.

**د تدقيق کميټه**:

- سرمؤلف مير نقيب الله د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف د لوی رياست علمی غړی
- پوهندوی دکتور فضل الهادی وزين
- سرمؤلف علی الله جليل د تعليمی نصاب د پراختيا او درسی کتابونو د تاليف رئيس
- د سرمؤلف مرستيال فروزان خاموش د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف د لوی رياست علمی غړې
- د سرمؤلف مرستيال مريم منزه کوهستانی د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف د لوی رياست علمی غړې

**مسلکي ايډيټ**:

- سيد انور مېچنخېل د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف د لوی رياست د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړی.

**د ژبې ايډيټور**:

- د سر مؤلف مرستيال محمد قدوس زکوخيل د تعليمي نصاب د پراختيا لوی رياست د پشتو څانګې علمی غړی

**ديني، سياسي او فرهنګي کميټه**:

- مولوي عبدالوکيل د ديني علومو د ديپارتمنت علمي غړی
- حبيب الله راحل د تعليمي نصاب د پراختيا په رياست کې، د پوهنې وزارت سلاکار.

**د څارنې کميټه**

- دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو د روزنې معين
- دکتور شېر علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول
- دکتور محمد يوسف نيازي د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رياست سرپرست

**کمپوز**: احمد فرهاد نوري

**ډيزاين**: رحمت الله غفاري

**د چاپ د سمون چارې**: محمد کبير حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئيس

بسم الله الرحمن الرحیم

**د پوهنې د وزير پيغام**

د لوی خدایﷻ ډېر شکر دی چې انسان یې په احسن تقویم کې پيدا او هغه ته یې د خبرو کولو توان ورکړ او د علم او فکر پر ګاڼه یې سمبال کړ. ډېر درود دې وي د اسلام پر ګران پيغمبر حضرت محمد مصطفیﷺ چې د انسانيت ستر ښوونکی دی او د رحمت، لارښوونې او روښنايي پيغام راوړونکی.

ښوونه او روزنه په هره ټولنه کې د بدلون او پراختيا بنسټ دی. د ښوونې او روزنې اصلي موخه د انسان د بالقوه ځواکونو فعالول او د هغه د پټو استعدادونو غوړول دي.

درسي کتاب د ښوونې او روزنې په بهير کې يو مهم رکن بلل کيږي چې له نوو علمي بدلونونو او پرمختګونو سره اوږه په اوږه د ټولنې له اړتياوو سره سم تاليف کيږي. درسي کتابونه بايد د منځپانګې له مخې خورا بډای وي چې وکړای شي د علومو له نوو لاسته راوړنو سره مل ديني او اخلاقي زده کړې د نوو ميتودونو له لارې زده کوونکو ته وليږدوي.

دغه کتاب چې اوس ستاسو په واک کې دی، د همدغو پورته ځانګړنو پر بنسټ چمتو او تاليف شوی دی. د پوهنې وزارت تل زيار باسي چې په هيواد کې تعليمي نصاب او درسي کتابونه د اسلامي ښوونې او روزنې او د ملي هويت د ساتلو پر بنسټ جوړ او له علمي معيارونو، نوو روزنيزو ميتودونو او د نړۍ له علمي پرمختګونو سره سم چمتو کړي. د زده کوونکو استعدادونه په ټولو اخلاقي او علمي خواوو کې وغوړيږي او په هغوی کې د تفکر او نوښت توان او د پلټنې حس پياوړی کړي. د خبرو اترو او پيرزوينې د فرهنګ دودول، د هيواد پالنې او مينې او محبت د حس پياوړی کول، ښښنه او پيوستون د پوهنې د وزارت نورې غوښتنې دي چې ښايي د لوست په کتابونو کې ورته پام وشي.

درسي کتابونه د ښه او مسلکي ښوونکي له درلودو پرته نشي کولای ټاکل شوي موخې ترلاسه کړي. ښوونکی د ښوونې او روزنې يو مهم جزء او د ښوونې او روزنې د پروګرامونو پلي کوونکی دی. د هيواد له ژمنو او زړه سواندو ښوونکو څخه، چې د تورتم او ناپوهۍ په وړاندې يې جګړه خپله دنده ګرځولې، دوستانه هيله لرم د تعليمي نصاب په دقيق او مخلصانه تطبيق کې د هيواد ماشومان، نجونې او تنکي ځوانان د پوهې، اخلاقو او معنويت لوړو څوکو ته ورسوي.

د هيواد د زده کړې د نظام برې د خلکو له جدي مرستو پرته امکان نه لري. له دې امله له ټولو قشرونو او د ملت له شريفو خلکو، په تيره بيا له کورنيو او د زده کوونکو له درنو اولياوو څخه هيله لرم چې د معارف د موخو د لاسته راوړو په برخه کې له هيڅ ډول مرستې څخه ډډه ونه کړي. دغه راز له ټولو ليکوالو، پوهانو، د ښوونې او روزنې له ماهرينو او د زده کوونکو له محترمو اولياوو څخه هيله کيږي چې په خپلو رغنده نظرونو، وړانديزونو او نيوکو د درسي کتابونو په لاښه والي کې د پوهنې له وزارت سره مرسته وکړي.

لازمه بولم له ټولو ښاغلو مؤلفانو، د پوهنې وزارت له اداري او فني کارکوونکو او له ملي او نړيوالو بنسټونو څخه، چې د دغه کتاب په چمتو کولو، چاپولو او ويش کې يې زيار ايستلی او مرسته يې کړې، مننه وکړم.

په پای کې له لوی خدایﷻ څخه غواړم چې په خپله بې پايه مهرباني له موږ سره د پوهنې د سپيڅلو ارمانونو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. انه سميع قريب مجيب.

**د پوهنې وزير**

**دوکتور اسدالله حنيف بلخي**

# لړلیک

**سرلیك** **مخ**


لومړی لوست آبادی ........ ۱
دویم لوست ادب ........ ۲
دریم لوست بازار ........ ۳
څلورم لوست جال ........ ٤
پنځم لوست دیگ ........ ٥
شپږم لوست رخت ........ ٦
اووم لوست سوغات ........ ۷
اتم لوست صابون ........ ۸
نهم لوست طاووس ........ ۹
لسم لوست علم ........ ۱۰
یوولسم لوست فالوده ........ ۱۱
دولسم لوست قلم ........ ۱۲
دیارلسم لوست کتاب ........ ۱۳
څوارلسم لوست لیمو ........ ۱٤
پنځلسم لوست میوه ........ ۱٥
شپاړسم لوست نارنج ........ ۱٦
اوولسم لوست وطن ........ ۱۷
اتلسم لوست هوا ........ ۱۸
نولسم لوست یخ ........ ۱۹

| سرليك | مخ |
| --- | --- |
| دویم څپرکی | ۲۰ |
| شلم لوست آبادی | ۲۱ |
| یوویشتم لوست ادب | ۲۲ |
| دو ویشتم لوست بازار | ۲۳ |
| درې ویشتم لوست جال | ۲٤ |
| څلرویشتم لوست دیگ | ۲۵ |
| پنځه ویشتم لوست رخت | ۲٦ |
| شپږویشتم لوست سوغات | ۲۷ |
| اوویشتم لوست صابون | ۲۸ |
| اته ویشتم لوست طاووس | ۲۹ |
| نه ویشتم لوست علم | ۳۰ |
| دیرشم لوست فالوده | ۳۱ |
| یو دیرشم لوست قلم | ۳۲ |
| دو دیرشم لوست کتاب | ۳۳ |
| درې دیرشم لوست لیمو | ۳٤ |
| څلور دیرشم لوست میوه | ۳۵ |
| پنځه دیرشم لوست نارنج | ۳٦ |
| شپږدیرشم لوست وطن | ۳۷ |
| اوو دیرشم لوست هوا | ۳۸ |
| اته دیرشم لوست یخ | ۳۹ |
| دویمه برخه: د ښوونکي لارښود | ٤۰-٤٦ |

**یادونه**:

دا کتاب درې برخې لري، لومړی برخه یې د زده کوونکو لپاره درسي کتاب دی، دویمه برخه یې د ښوونکو لپاره لارښود کتاب دی.

هیله ده چې ښوونکي او زده کوونکي له دې کتاب څخه سمه او پر زړه پورې گټه واخلي.

# ادب

موخه: زده کوونکي دې د کرسي خط په نظر کې نیولو سره د ادب کلمه په سمه توګه خطاطي کړي.



## پوښتنه

-ایا تاسو ویلای شئ چې د ادب په کلمې کې د (ب) توری د کرسي خط په کومې برخې کې راغلی دی؟

ادب      ادب



## فعالیتونه

پورتني مشق ته ځیر شئ، وروسته هغه په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې څو وارې ولیکئ.



## کورنۍ دنده

د ادب کلمه په کړکي یا پنسل قلم څو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# آبادي

موخه: زده کوونکي به وکولای شي د (آبادي) کلمه د کرسي خط پر مخ خطاطي کړي.



## پوښتنه

- تاسې کله د آبادۍ کلمه خطاطي کړې ده؟






## فعالیتونه

پورتني سر مشق ته وګورئ او په کړکي قلم يې په کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.



## کورنۍ دنده

پورتنی مشق د کړکي په قلم مشق او تمرين کړئ.

# باران

موخه: زده کوونکي به وکولای شي د باران کلمه خطاطي کړي.



## پوښتنه

- تاسو ویلای شئ د باران په کلمې کې د (ب) توری د کرسي خط په کومې برخې کې راغلی دی؟

باران باران




پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه څو وارې په خپلو کتابچو کې د کړکي په قلم مشق او تمرین کړئ.



## کورنۍ دنده

د باران کلمه په خپلو کتابچو کې په کړکي قلم څو وارې مشق او تمرین کړئ.

# جوار

موخه: زده کوونکي به د دې توان پیدا کړي چې د جوار کلمه ښه خطاطي کړای شي.



## پوښتنه

- تاسو ویلای شئ چې د جوار په کلمې کې د (ج) توری د کرسي خط په کومې برخې کې راغلی دی؟

جوار جوار



## فعالیتونه

پورتنی مشق وګورئ، هغه په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې څو وارې مشق او تمرین کړئ.

## کورنۍ دنده

پورتنی مشق په خپلو کتابچو کې په پنسل یا په کړکي قلم څو وارې مشق او تمرین کړئ.

# دوا

موخه: زده کوونکي به وکولای شي چې د (دوا) کلمه د کرسي خط پر مخ خطاطي کړي.



## پوښتنه

- د دوا په کلمې کې د (د) توری د کرسي خط په کومې برخې کې راغلی دی؟

دوا　　دوا



## فعالیتونه

پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې څو وارې ولیکئ.

## کورنۍ دنده

د (دوا) کلمه د کړکي یا پنسل قلم په واسطه څو وارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# رښتیا

**موخه**: زده کوونکي به په سمه توګه د رښتیا کلمه خطاطي کړای شي.



**پوښتنه**

-تاسو ویلای شئ چې د (ر) توری د کرسي خط په کومې برخې کې راغلی دی؟

رښتیا رښتیا



**فعالیتونه**

**پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه په کړکي قلم ښو واړې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.**

**کورنۍ دنده**

**پورتنی مشق په کړکي قلم ښو واړې مشق او تمرین کړئ.**

# سابه

موخه: زده کوونکي به وکولای شي چې د (سابه) کلمه سمه خطاطي کړي.



## پوښتنه

- تاسو داسې کلمې خطاطي کړې دي، چې په پیل کې یې د (س) توري راغلی وي؟

سابه سابه



## فعالیتونه

پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه په کړکي قلم ځو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

## کورنۍ دنده

د (سابه) کلمه په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# صابون

موخه: زده کوونکي به وکولای شي د صابون د کلمې خطاطي سمه زده کړي.



## پوښتنه

- د صابون په کلمې کې د (ص) توری د کرسي خط په کومې برخې کې راغلی دی؟

صابون صابون



## فعالیتونه

پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه په کړکي قلم څو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.



## کورنۍ دنده

پورتنی سرمشق په کړکي قلم څوارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ





موخه: زده کوونکي به وکولای  شي، چې د طاووس کلمه سمه خطاطي کړي.



پوښتنه

-د طاووس  په کلمې کې د (و) توري د کرسي خط په کومو برخو کې راغلي دي؟







پورتني مشق ته  پاملرنه وکړئ، هغه په کړکي قلم ځو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.



کورنۍ دنده

پورتنی سرمشق په کړکي قلم ځو وارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.



**موخه: زده کوونکي به وکولای شي چې د (علم) کلمه سمه خطاطي کړي.**



## پوښتنه

**-ستاسو په فکر د (ع-ل-م) توري د کرسي خط په کومې برخې کې راغلي دي؟**





## فعالیتونه

**پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه د کرسي خط په نظر کې نیولو سره ځو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.**



## کورنۍ دنده

**پورتنی مشق د کړکي په قلم ځوارې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.**

# فکر

موخه: زده کوونکي به وکولای شي چې د فکر کلمه خطاطي سمه زده کړي.

- ستاسو په اند په لاندې کلمې کې کوم توری د کرسي خط له پاسه راغلی دی؟

فکر فکر



## فعالیتونه

پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه د کرسي خط په نظر کې نیولو سره په کړکي قلم ځو وارې مشق او تمرین کړئ.

## کورنۍ دنده

پورتنی مشق په کړکي قلم ځو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# قلم

موخه: زده کوونکي وتوانیږي چې د قلم دکلمې خطاطي سمه زده کړي.



## پوښتنه

-آیا تاسو د (ق) توری له نورو تورو سره یو ځای لیکلی دی؟

قلم    قلم



## فعالیتونه

پورتنی مشق وګورئ، هغه په کرکي قلم په خپلو کتابچو کې څو وارې مشق او تمرین کړئ.

## کورنۍ دنده

پورتنی مشق د کرکي په قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# کتاب

موخه: زده کوونکي به وکولای شي د (کتاب) کلمه په سمه توګه خطاطي کړي.



## پوښتنه

- ستاسو په فکر د کتاب په کلمې کې د (ت، ب) توري د کرسي خط په کومې برخې کې راغلي دي؟

کتاب کتاب



## فعالیتونه

پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه په کړکي قلم څو واره تمرین کړئ.

## کورنۍ دنده

پورتنی مشق په کړکي قلم په کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# لیمو

موخه: زده کوونکي به وکړای شي د لیمو کلمه په سمه توګه خطاطي کړي.



پوښتنه

-ستاسو په اند د لیمو په کلمې کې د (م) توری د کرسي خط په کومې برخې کې راغلی دی؟

لیمو لیمو



فعالیتونه

پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه د کرسي خط په نظر کې نیولو سره په کړکي قلم څو واري مشق او تمرین کړئ.



کورنۍ دنده

پورتنی سر مشق په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# میوه

موخه: زده کوونکي به د مېوې د کلمې په خطاطۍ وتوانیږي او سمه به یې زده کړي.



**پوښتنه**

- ستاسو په نظر د مېوې په کلمې کې کوم توری د کرسي خط له پاسه راغلی دی؟

میوه میوه



**فعالیتونه**

پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه د کرسي خط په نظر کې نیولو سره د کړکي په قلم ښو وارې مشق او تمرین کړي.

**کورنۍ دنده**

پورتنی سر مشق په کړکي قلم څو وارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# نارنج


**موخه: زده کوونکي به وکولای شي، د (نارنج) د کلمې خطاطي سمه زده کړي.**



### پوښتنه

-ستاسو په فکر د نارنج په کلمې کې د (ر) توری د کرسي خط په کومې برخې کې راغلی دی؟

نارنج    نارنج



### فعالیتونه

**له پورتني سر مشق سره سم د نارنج کلمه څو وارې په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې ولیکئ.**



### کورنۍ دنده

**پورتنی مشق په کړکي قلم خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.**



موخه: زده کوونکي به وکولای شي چې د وطن د کلمې خطاطي په دقیقه او سمه توګه زده کړي.



## پوښتنه

- ستاسو په نظر د وطن په کلمې کې د (ن) توری د کرسي خط په کومې برخې کې راځي؟






## فعالیتونه

د لیکلي مشق له مخې د وطن کلمه څوواري په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې ولیکئ.



## کورنۍ دنده

پورتنی سر مشق په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.






موخه: زده کوونکي به د هوا د کلمې خطاطي په سمه توګه وکړای شي.



### پوښتنه

- آيا تاسو داسې کلمه خطاطي کړې ده چې لومړی توري يې (هـ) وي؟







له پورتني مشق سره سم د هوا کلمه په کړکي قلم ځو وارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.



### کورنۍ دنده

پورتنی مشق د کړکي په قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

# لامبو

**موخه: زده کوونکي به وتوانیږي د لامبو د کلمې خطاطي په سمه توګه زده کړي.**



## پوښتنه

**-ستاسو په نظر د لامبو په کلمې کې د (و) توری د کرسي خط په کومې برخې کې راغلی دی؟**

لامبو لامبو



## فعالیتونه

**پورتني مشق ته په پاملرنې د لامبو کلمه پر کرسي خط باندې څو وارې مشق او تمرين کړئ.**



## کورنۍ دنده

**پورتنی مشق په کړکي یا پنسل قلم څو واره تمرين کړي.**



موخه: زده کوونکي به د یخ دکلمې لیکل او خطاطي په سمه توگه زده کړي.



## پوښتنه

- ستاسو په فکر د (یخ) په کلمې کې د (خ) توری د کرسي خط په کومې برخې کې راغلی دی؟





## فعالیتونه

پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، د هغه له مخې د یخ کلمه دکړکي په قلم په خپلو کتابچو کې څو وارې مشق او تمرین کړئ.



## کورنۍ دنده

پورتنی مشق په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# په کرسي خط باندې د جملو خطاطي

ادب

موخه: زده کوونکي به وکولای شي چې لاندینۍ جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړي.



پوښتنه

- په لاندینۍ جملې کې کوم توری تر کرسي خط لاندې راغلی دی؟

ادب د انسان گانه ده.

ادب د انسان گانه ده.



فعالیتونه

پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه په کړکي قلم د کرسي خط پرمخ خطاطي کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ جمله په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

# آبادي

موخه: زده کوونکي دې د کرسي خط په نظر کې نيولو سره لاندې جمله خطاطي کړي.



**پوښتنه**

-ستاسو په فکر لاندې سرمشق له څو کلمو څخه جوړشويدی؟

## دوطن آبادي زموږ هيله ده.

د وطن آبادي زموږ هيله ده .



**فعاليتونه**

په خپلو کتابچو کې کرسي خط په پنسل رسم کړئ او پورتنۍ جمله پرې په ښکلي خط مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ مشق په کړکي قلم په کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

# باران

موخه: زده کوونکي به وکولای شي چې لاندې جمله د کرسي خط پر مخ په سمه توگه خطاطي کړي.



## پوښتنه

- په لاندینۍ جملې کې کوم توري تر کرسي خط لاندې راغلي دي؟

باران دخدای (ج) رحمت دی.

باران دخدای (ج) رحمت دی.



## فعالیتونه

پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه په کړکي قلم د کرسي خط پرمخ خطاطي کړئ.

## کورنۍ دنده

پورتنۍ جمله په کړکي قلم خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# جوار

**موخه:** زده کوونکي به په دې وتوانیږي چې لاندنۍ جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړي.



**پوښتنې**

- په لاندې جملې کې کوم توري د کرسي خط پرمخ راغلي دي؟

جوار زموږ په هیواد کې کرل کېږي.

جوار زموږ په هیواد کې کرل کېږي.



**فعالیتونه**

پورتني مشق ته پاملرنه وکړئ، هغه په کړکي قلم د کرسي خط پرمخ په خپلو کتابچو کې ولیکئ.



**کورنۍ دنده**

پورتنی سرمشق په کړکي قلم او پنسل تمرین کړئ.

# دوا

موخه: زده کوونکي به لاندې جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړای شي.



## پوښتنه

- په لاندې جملې کې د (د، و) توري د کرسي خط په کومې برخې کې راغلي دي.

موږ باید په خپل سر، دوا و نه خورو.

موږ باید په خپل سر، دوا و نه خورو.



## فعالیتونه

پورتني مشق ته په ځیر وګورئ، هغه په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې د کرسي خط پرمخ خطاطي کړئ.

## کورنۍ دنده

پورتنی مشق په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# رښتیا

**موخه:** زده کوونکي د کرسي خط پرمخ د لاندینۍ جملې د خطاطۍ مهارت پیدا کړي.



**پوښتنه**

- د (رښتیا) په کلمې کې کوم توري د کرسي خط پر مخ راغلي دي؟

خدای ﷻ په رښتیا ویلو رضا کېږي.

خدای ﷻ په رښتیا ویلو رضا کېږي.



**فعالیتونه**

پورتنۍ جمله په پام کې ونیسئ، هغه د کړکي په قلم په خپلو کتابچو کې د کرسي خط پرمخ مشق کړي.

**کورنۍ دنده**

پورتنی سرمشق د کړکي په قلم په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# سابه

موخه: زده کوونکي وکولای شي چې لاندې جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړي.



**پوښتنه**

- د (سابه) په کلمې کې ټکی د کرسي خط په کومې برخې کې راغلی دی؟

سابه مخکې ترخوړلو باید پاک ومینځل شي.

سابه مخکې ترخوړلو باید پاک ومینځل شي.



**فعالیتونه**

پورتنی مشق وګورئ، هغه په کړکي قلم د کرسي خط پرمخ په خپلو کتابچو کې ولیکئ.



**کورنۍ دنده**

پورتنی سرمشق په کړکي قلم د کرسي خط پرمخ په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# صابون

**موخه: زده کوونکي به وکولای شي لاندنۍ جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړي.**



**پوښتنه**

**-ستاسو په نظر په لاندې جملې کې څو توري تر کرسي خط لاندې راغلي دي؟**

زه هر وخت په صابون لاسونه مینځم.

زه هر وخت په صابون لاسونه مینځم.



**فعالیتونه**

**پورتني سرمشق ته په پاملرنې، هغه په کړکي قلم د کرسي خط پرمخ په خپلو کتابچو کې خطاطي کړئ.**



**کورنۍ دنده**

**پورتنی سرمشق په کړکي قلم د کرسي خط پرمخ په خپلو کتابچو کې ولیکئ.**

# طاووس

موخه: زده کوونکي به وکولای شي لاندینی جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړي.



**پوښتنه**

- ستاسو په نظر په لاندینۍ جملې کې د (و) او (د) توري د کرسي خط په کومې برخې کې لیکل شوي دي؟

طاووس ښکلی الوتونکی دی.

طاووس ښکلی الوتونکی دی.



**فعالیتونه**

پورتني مشق ته ځیر شئ، هغه څو وارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.



**کورنۍ دنده**

پورتنی مشق په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# علم

موخه: زده کوونکي به وکولای شي چې لاندینۍ جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړي.



## پوښتنه

- ستاسو په نظر په لاندې جملې کې کوم توري د کرسي خط پرمخ راغلي دي؟

دعلم زده کړه فـــــرض ده.

دعلم زده کړه فـــــرض ده.



## فعالیتونه

پورتني مشق ته په ځیر وګورئ، هغه څو وارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## کورنۍ دنده

پورتنی سر مشق په کړکي قلم او پنسل په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# فکر

موخه: زده کوونکي به کرسي خط ته په پاملرنې سره لاندې جمله خطاطي کړای شي.



پوښتنه

- ایا تاسو پوهېږئ په لاندنې جملې کې د (ف، ر) توري د کرسي خط په کومې برخې کې لیکل کېږي؟

له خبرو مخکې باید فکر وکړو.

له خبرو مخکې باید فکر وکړو.



فعالیتونه

پورتني مشق ته ځیر وګورئ، بیا هغه څو وارې د کړکي په قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.



کورنۍ دنده

پورتنی مشق په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# قلم

موخه: زده کوونکي به وکولای شي چې لاندینۍ جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړي.



## پوښتنې

- تاسو په څه شي ليکل کوئ؟

په قرآن کريم کې د قلم ذکر راغلی دی.

په قرآن کريم کې د قلم ذکر راغلی دی.



## فعاليتونه

پورتنۍ جملې ته ځير شئ، وروسته يې په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې څو وارې خطاطي کړئ.

## کورنۍ دنده

پورتنی مشق د کړکي په قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

# کتاب

موخه: زده کوونکي وکولای شي لاندې جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړي.



پوښتنه

- تاسې ویلای شئ چې په لاندینۍ جملې کې کوم توری د کرسي خط له پاسه راغلی دی؟

له کتاب ښخه بل ښه ملګری نشته.

له کتاب ښخه بل ښه ملګری نشته.



فعالیتونه

پورتنۍ جملې ته پاملرنه وکړئ، هغه په کړکي قلم څو وارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.



کورنۍ دنده

پورتني مشق په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# لیمو

موخه: زده کوونکي به وتوانیږي د لیمو په اړه جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړي.



پوښتنه

- تاسو ویلای شئ په لاندینۍ جملې کې څو ټکي له کرسي څخه خط لاندې راغلي دي؟

په ننګرهارکې دلیموونې ډېرې دي.

په ننګرهارکې دلیموونې ډېرې دي.



فعالیتونه

پورتني مشق ته ځیر شئ، هغه په کړکي قلم خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنی مشق په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# میوه

موخه: زده کوونکي به وکولای شي، لاندینۍ جمله د کرسي خط پرمخ په ښکلې ښه خطاطي کړي.



پوښتنه

- تاسې ویلای شئ، په لاندینۍ جملې کې راوړل شوې (ړ) او (ته) د کرسي خط په کومې برخې کې راغلې دي؟

د پاکو میوو خوړل روغتیا ته ګټه لري.

د پاکو میوو خوړل روغتیا ته ګټه لري.



فعالیتونه

پورتنۍ مشق ته ځیر شئ، او په کړکي قلم یې خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.



کورنۍ دنده

پورتنی مشق په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

# نارنج

موخه: زده کوونکي به وکولای شي چې لاندینۍ جمله د کرسي خط پرمخ سمه خطاطي کړي.



## پوښتنه

- په لاندینۍ جملې کې د (ج)او (الف) توري د کرسي خط په کومې برخې کې راغلي دي؟

دنارنج گل سنبه عطر لري.

دنارنج گل سنبه عطر لري.



## فعالیتونه

کرسي خط ته په پاملرنې سره پورتنی مشق په کړکي قلم ، خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## کورنۍ دنده

پورتنی مشق په کړکي قلم خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# وطن

موخه: زده کوونکي به وکولای شي، د خطاطۍ په مهارت سره لاندینۍ جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړي.


پوښتنه

- تاسو پوهېږئ چې په لاندې جملې کې د (ن) او (م) توري د کرسي خط په کومې برخې کې راغلي دي؟

پرموږ خپل وطن ګران دی.

پرموږ خپل وطن ګران دی.


فعالیتونه

پورتني مشق ته ځیر شئ، او د کړکي په قلم یې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


کورنۍ دنده

پورتنی سرمشق په کړکي قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# هوا

موخه: زده کوونکي به وکولای شي چې لاندېنۍ جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړي.



پوښتنه

- تاسو ویلای شئ په لاندې جملې کې کوم توري د کرسي خط پرمخ راغلي دي؟

پاکه هوا د ژوند لپاره ډېره ضروري ده.

پاکه هوا د ژوند لپاره ډېره ضروري ده.



فعالیتونه

پورتني مشق ته ځیر شئ، او په کړکي قلم یې خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنی مشق په کړکي قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

# لامبو

موخه: زده کوونکي به وکولای شي چې د خطاطۍ په مهارت سره لاندېنۍ جمله د کرسي خط پرمخ ښکلې خطاطي کړي.



### پوښتنه

- تاسې ویلای شئ په لاندېنۍ جملې کې کوم توري له کرسي خط څخه لاندې راغلي دي؟

په ناولو اوبو کې لمبېدل زیان لري.

په ناولو اوبو کې لمبېدل زیان لري.



### فعالیتونه

پورتني سرمشق ته په کتو سره هغه د کرسي خط پرمخ په سمه توګه خطاطي او تمرین کړئ.



### کورنۍ دنده

پورتنۍ جمله د کرسي خط پرمخ په خپلو کتابچو کې په سمه توګه مشق او تمرین کړئ.

# یو والی

موخه: زده کوونکي به وتوانیږي چې لاندینۍ جمله د کرسي خط پرمخ خطاطي کړي.



پوښتنه

- ستاسو په نظر په لاندې جملې کې د کومو تورو لیکل د کرسي خط پرمخ اسان دي؟

زمور قوت په یو والي کې دی.

زمور قوت په یو والي کې دی.




پورتني مشق ته وګورئ، بیایې د کړکي په قلم، خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنی مشق په کړکي قلم خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## دویمه برخه

## د حسن خط د تدریس لارښود

لومړی لوست
(۱) مخ
د تدریس وخت دوه درسي ساعتونه
لومړی درسي ساعت

| د لوست سرلیک | ادب | |
|---|---|---|
| عمومي موخې | زده کوونکي د ادب کلمه د کرسي خط پرمخ خطاطي کړای شي. | |
| د زده کړې موخې:<br>- پوهنیزې<br>-مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې د دې لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي.<br>• په کرسي خط باندې د ادب د کلمې په خطاطۍ وپوهیږي.<br>• د ادب کلمه سمه خطاطي کړای شي.<br>• په کړکي قلم د جملو له خطاطۍ سره مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس لارې | مشق او تمرین،ځانګړې فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه. | |
| د تدریس اړین توکي | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، د کړکي قلم، تباشیر، مشواڼي او خط کش. قط زن (قطع زن) | |
| د ارزونې لارې | عملي او مشاهداتي توګه. | |
| لومړني فعالیتونه | سلام اچول، پوښتنه د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخېستل، د نوي کال مبارکي، د حسن خط مضمون په اړه خبرې کول. | وخت ۵دقیقې |
| د انګیزې رامنځ ته کول | -تاسو کله د کرسي خط پرمخ د (ادب) کلمه خطاطي کړیده؟ | ۵ دقیقې |

| مدت زمان | د ښوونکي فعالیتونه |
|---|---|
| ۳۵ دقیقه | - ښوونکی دې لومړی د تختې پرمخ د کرسي خط رسم کړئ.<br>- ښوونکی دې په کرسي خط باندې د ادب د کلمې د خطاطي په اړوند لارښوونه وکړي.<br>- ښوونکی دې د ادب دکلمې خطاطي زده کوونکو ته عملاً وروښيي.<br>- د (د) او (ب) توري دې د سرمشق له مخې په کرسي خط باندې وليکي.<br>- د ډله ييز کار څارنه دې وکړي او د هغوی مشق دې اصلاح کړي.<br>- د کتاب فعاليتونه دې د کتاب د هدايت له مخې په زده کوونکو باندې کار وکړي.<br>- د زده کوونکو د هڅونې لپاره دې د دوی ليکنې پر ديوال وځړوي. |
| **ارزونه**: د خپل ډاډ د ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکو د ادب کلمې خطاطي سمه زده کړيده، له زده کوونکو څو پوښتنې وکړي او د هغوي ارزونه دې وکړي. | |
| **کورنۍ دنده**: د ادب کلمه دې په کرکي قلم خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ. | |

**اضافي معلومات**

د خط لغوی معنی په قلم ليکل دي او د هنر له نظره له د تورو د شکلونو ليکلو ته وايي. په جملو کې چې کومه معنا ترې اخيستل کيږي د انسان پټ افکار او نيتونه ترې څرګنديږي. په بل عبارت خط د انسان د زړه او د ماغ استازی او د يو امانت په شان دی په همدې ډول خط د پټو اسرارو څرګندونکي او د اثارو ساتونکی دی، همدارنګه د خطاطي هنر (ښکلي ليکل) د ځينو په اند د خطاطي او ښکلي ليکلو هنر او فن علم دی، د ځينو نورو له نظره داسې يو فن او هنر چې ياديږي او زده کيږي.

دویم لوست

( ۲ ) مخ

## د حسن خط د تدریس لارښود

(د تدریس وخت دوه درسي ساعتونه)

لومړی درسي ساعت

| | | |
|---|---|---|
| **د لوست سرلیک** | آبادي | |
| **عمومي موخې** | زده کوونکي د (آبادي) کلمه د کرسي خط پرمخ خطاطي کړای شي. | |
| **د زده کړې موخې:**<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې د دې لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي.<br>• د کرسي خط پرمخ د (آبادي) د کلمې په خطاطۍ وپوهېږي.<br>• زده کوونکي د (آبادي) کلمه ښه او سمه خطاطي کړای شي.<br>• په کړکي قلم د جملو له خطاطۍ سره مینه پیدا کړي. | |
| **د تدریس لارې** | دله ییز فعالیتونه،ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه، توضیحي. | |
| **د تدریس اړین توکي** | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، د کړکي قلم، تباشیر، مشواني او خط کش، قط زن (قطع زن). | |
| **د ارزونې لارې** | په عملي توګه مشاهده کول. | |
| **لومړني فعالیتونه** | سلام اچول،پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، د کورنۍ دندې لیدنه، له تېر لوست یادونه او له نوي لوست سره یې اریکې. | وخت ۵دقیقې |
| **د انګیزې رامنځ ته کول** | - کله مو د (آبادي) کلمه د کرسي خط پرمخ په یوازې توګه په یوې جملې کې لیکلې ده؟ | ۵ دقیقې |

| مدت زمان | د ښوونکي فعالیتونه |
|---|---|
| ۳۵ دقیقه | - ښوونکی دې زده کوونکو ته د کرسي خط پرمخ د آبادۍ د کلمې د خطاطۍ په اړه لارښوونه وکړي.<br>-ښوونکی دې د آبادي د کلمې لیکل عملاً په کړکي قلم ور زده کړي.<br>- د ډله ییز کار څارنه دې وکړي او د هغوی مشق دې اصلاح کړي.<br>- د زده کوونکو د هڅونې لپاره دې د دوی لیکنې د ټولګي په مخ کې نورو ته ور وښيي. |

**ارزونه**: د خپل داد د ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکو د ادب کلمې خطاطي سمه زده کړېده، له زده کوونکو څخه د دوی د ارزونې لپاره څو پوښتنې وکړي.

**کورنۍ دنده**: په زده کوونکو دې د (آبادي) سرمشق د کرسی خط پرمخ په کړکي قلم مشق او تمرین کړي.

**اضافي معلومات**

**د خط اهمیت**: خط د انسانانو په ژوند کې د اسانتیاوو په راوړلو سره د ټولنیز ژوند د پرمختګ او پراختیا اصلی لامل ګڼل کیږي. په یقین سره د علومو او تکنالوژۍ پرمختګ او پراختیا چې د نننی انسان په برخه شوې د خط د اختراع او کارونې له برکته دی. که چیرې خط نه وای اختراع شوی نو د انسانانو دغه ټولې علمي لاس ته راوړنې به په دې اندازه موجودې نه وای. لکه چې لوی خدای(ج) په قرآن کریم کې فرمايي: (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّکَ الَّذی خَلَقَ* خَلَقَ الْإنسَانَ مِنْ عَلَقٍ*اقْرَأْ وَرَبُّکَ الْأَکْرَمُ الذی عَلمَ بِل قلمِ* عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ یَعْلَمْ* ) ژباړه: د خپل پروردګار په نامه ووايه، چې انسان يې له يوه ځاځکي وینې پیدا کړی، ولوله په نامه د پروردګار چې کریم دی، هغه چې علم يې د قلم په واسطه ور زده کړ، په هغه څه چې انسان پرې نه پوهیده.

**د خط عمومي ګټې**: په دې پوهېږو چې ټول عربي او اسلامی خطونه پر یوه اصل او ریښه پای ته رسیږي، هغه ریښه او اصل د الفبا توري دي چې له هندسي شکلونو او له هغو شکلونو څخه يې چې په طبیعت کې موجود دي الهام اخیستی، د یوه داسې پیکر په شان دي، چې په بېلابېلو ټولنو کې ډول ډول لیکونه موجود دي.

(۳۲) مخ

## د حسن خط د تدریس لارښود

(د تدریس وخت دوه درسي ساعتونه)

| | | |
|---|---|---|
| **د لوست سرلیک** | **باران** | |
| **عمومي موخې** | زده کوونکي یوه جمله چې د باران کلمه پکې راغلې وی د کرسي خط پرمخ خطاطي کړای شي. | |
| **د زده کړې موخې:**<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکي هیله کېږي چې د دې لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي.<br>• زده کوونکي د باران په جمله کې د کلمو په خطاطۍ زده کوونکي وپوهېږي.<br>• د جملې هره کلمه د کرسي خط پرمخ سم خطاطي کړای شي.<br>• په کرکي قلم د کلمو له خطاطي سره مینه پیدا کړي. | |
| **د تدریس لارې** | ډله ییز فعالیتونه،ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه، توضیحې. | |
| **د تدریس اړین توکي** | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، د کړکي قلم، تباشیر، مشواڼې او خط کش، قط زن (قطع زن) | |
| **د ارزونې لارې** | په عملي توګه مشاهده کول. | |
| **لومړني فعالیتونه** | سلام اچول،پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخېستل، د کورنۍ دندې لیدنه، له تېر لوست یادونه او له نوي لوست سره یې اړیکې. | وخت ۵دقیقې |
| **د انګیزې رامنځ ته کول** | - کله مو په کړ کي قلم د باران کلمه لیکلې ده؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | مدت زمان |
|---|---|
| - زده کوونکو ته دې د کرسي خط پرمخ د باران جملې په اړوند کلمې یا جمله خطاطي کړي.<br>-د باران او نورو کلمو خطاطي دې عملاً وروښيي.<br>- د ډله ییز کار څارنه دې وکړي د هغوی مشق دې اصلاح کړي.<br>- د زده کوونکو د هڅونې لپاره دې د دوی کارونه نورو ته وروښيي. | ۳۵ دقیقه |

**ارزونه**: د خپل ډاډ د ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکو د باران په اړوند د جملې خطاطي سمه زده کړیده؟ له زده کوونکو دې د ارزونې لپاره څو پوښتنې وکړي.

**کورنۍ دنده**: زده کوونکي دې د باران جمله په کرکي قلم خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړي.

**اضافي معلومات**

کولای شو دا دیوې عمومي قاعدې او قانون لاندې وګورو، ځکه چې ټول په اصل او ریښه کې سره شریک دي، له دې امله ټول عربي او اسلامي خطونه تر څلورو قاعدو لاندې چې هره قاعده یې څو برخې لري، مطالعه کړو.

**اصول**: **یوولس برخې لري**

۱- قوت، ۲- ضعف، ۳- سطح، ٤- دور، ۵- مجازي پوره والي، ٦- مجازي ښکته والی، ۷- حقیقی صعود، ۸- حقیقی نزول، ۹- د غوټو په حلقو کې د سواد او بیاض رعایتول، ۱۰-ارسال، ۱۱- د الفبا ډلبندي.

**نسبت څلور برخې یا جزونه لري**:

۱-په همجنسو مفرداتو کې یو ډول لیکنه. ۲- مشابه مرکبات، ۳- د مفرداتو او مرکباتو په اندامو کې د تناسب مراعاتول ، ٤- پر ټاکلو معیارونو سره اندازه کول.

**ښاغلي ښوونکي**: په دې کتاب کې د تدریس د لارښود د بیا لیکنو څخه مو ډ ده کړیده. تاسې کولای شئ چې له دې لارښود څخه د ټولو لوستو په تدریس کې ګټه واخلئ.